## مور و پلار درناوی کوئ

)او ستا د رب قطعي امر دی چې يواځې دهغه عبادت وکړئ او له مور وپلار سره ښېګڼه اودهغوی خدمت وکړئ.) [ القرآن]

لوی خدای جل جلاله چې د بندګانو ځومره حقوق بیان کړي دي په هغوی کې يې له ټولو نه دمخه د مور اوپلار حقوق ياد کړي دي،اوداځکه چې مور ته واښايي چې له مور اوپلار څخه زيات بل هېڅوک هم ددومره ددرنښت اودرناوي وړ نه دي. الله جل جلاله د مور اوپلار سره دښېګڼې کولو لارښوونه کوي اوددې له پاره يې دلويو اجرونو وعدې هم کړې دي، اوله هغوی سره د ښېګڼې اوښه چلند اودهغوی د خدمت کولو سره الله تعالی د بې شمېره نيکيو او بدلې ورکولو وعده کړې .

په قرآن کريم کې الله جل جلاله د ( بني اسرائيل ) په سورت کې دتوحيد او عبادت سره يوځای د مور وپلار د حق پرځای کولو لارښوونه کوي او فرمايي: ( او ستا درب لازمي امر دی چې يواځې دهغه عبادت وکړه، له مور وپلار سره ښه چلند اودهغوی خدمت وکړه (

حضرت محمد صلی الله عليه وسلم له مورراوپلار سره ښه چلند له نوروټولوحقوقودمخه يادوي او په دې اړه دده صلی الله عليه وسلم ديوه حديث شريف مطلب داسې دی:

)د الله خوښي اوخوشالي د پلار په خوښي کې نغښتې ده اود الله جل جلاله خفګان د پلار په خفګان کې ده. [ترمذی[

له حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: ( د الله جل جلاله خوښي دمور وپلار په خوښي کې اودهغه جل جلاله خفګان دمور وپلار په خفګان کې نغښتېی دی.

د پورتنیو مبارکو آیاتونو او احادیثو بهٔرڼاکې دا خبره دڅیړنې وړ ده چې د الله جل جلاله له لوري له موروپلار سره ښېګڼه يې له توحید سره یوځای یاد کړې ده، یعنې پر الله جل جلاله ایمان او له مور وپلار سره ښېګڼه کول ګواکې د توحید اویووالي باندې له اقرار کولو وروسته تر ټولو ستره ذمه واري ده .

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مبارکو ارشاداتو په رڼاکې دا خبره ښکاره شوه چې الله جل جلاله خپله خوښي دمور اوپلار له خوښي سره یوځای کړې ده.

دلته دیوې باریکي خبرې ښکاره کول ډېر زیات ضروري دي اوهغه داچې انسان د مور اوپلار په خفه کولو او خبرې نه منلو سره انسان د دوو ګناوو مرتکب ګرځي یوداچې مور اوپلار يې خفه کړل اوبله داچې د خدای جل جلاله امر یې ترپښو لاندې کړ نو له دې امله دیوه مسلمان په ډول پرمونږ باندې لازمه ده چې له خپل مور اوپلار سره له ډېروښو

اخلاقو څخه کار واخلو اوهغه څه باید وکړو چې ددوی دخوښي سبب وګرځي اوله دې سره سره هغه څه باید وکړی شي چې په هغې سره ددوی دعاګانې لاس ته راوړو او آینده مو پرې روښانه شي. د هغوی خدمت وکړو، په هر شرعي حکم کې یې پوره متابعت وکړو، د هغې په په ځای کولو کې سستي او تمبلي ونه کړو، څو چې د قیامت په ورځ د الله رب العزت په وړاندې له ستړې شرمندګي څخه خلاص شو.

په مونږ چې دمور اوپلار کومې لورینې دي اوهمدا راز یې زمونږ دښوونې او روزنې له پاره څومره سختې شیبې په ځان ګاللي او تېرې کړي دي؛ په دې ټولو مونږ اوتاسې پوهیږو، نو که له دې سره سره هم کوم کمبخته او کم برخې انسان د موروپلار حقوق اودهغوی اړتیاوې نه پوره کوي، هغوی ته ( خدای مه کړه ) ضرر رسوي نوپه حقیقت کې دغه بدمرغه بخته اولاد د ایمان له رښتوني دولت او رڼا څخه محرومه او بې برخې دی.

په دې اړه ګڼ شمېر احادیث مبارک شته چې دمور وپلار د زړه دساتنې اودهغوی دخدمت دکولو امر او همداراز هڅونه پکې شوې ده. حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم وایي چې: که د مور وپلار یو نامنلی زوی لمونځونه کوي، روژې نیسي، نورې نیکۍ کوي لنډه داچې د ښو کارونو له امله دی یوې ځانګړې مرتبې ته ورسیږي، خو که دی په داسې حالت کې له دې دنیا څخه ولاړ شي چې مور وپلار یې

ورخخه خفه وي نو دقيامت په ورځ به له الله جل جلاله سره په داسې حالت کې مخامخ کيږي چې هغه به ورته سخت په غصه وي .

په يوه بل ځای کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: چې دنامنلي اولاد اود شيطان ترمنځ په دوزخ کې يواځې اويواځې يوه درجه توپير دی. مطلب داچې دی په دوزخ کې دشيطان له ملګرو څخه دی.

يو سړی د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو اوترې ويې پوښتل چې :آيا مور اوپلار په خپل اولاد باندې څه حقوق لري؟

نبي عليه السلام ورته وفرمايل: هغه دواړه يا ستا له پاره جنت اوياهم دوزخ کيدلای شي.

که چيرې مونږ دخپل ژوند موخه دا وګرځوو چې تل دخپل مور او پلار خدمت وکړو، دهغوی خبره ومنو او هغوی پوره هوسا او آرام وساتو نوبيا به مو انشاء الله مور او پلار هم خوشاله ساتلي وي او ورسره به مو الله تعالی جل جلاله هم له ځانه خوشاله کړی وي.

له دې څخه وروسته کيدای شي چې جنت زمونږ په برخه شي اوکه خدای مه کړه د خپلې کمبختۍ له امله هغوی ته زيان او ضرر ورسوو، يادهغوی زړونه خفه کړو، دهغوی

دحقوقو پوره پوره خيال ونه ساتو نوبايد پوه شو چې بيا نو دوزخ ددغسې بې برخې خلکو لار څاري،د يادونې وړ ده چې بايد الله ته توبه وباسو اود مور او پلار د خوشاله ساتلو پوره تابيا وکړو.

الله جل جلاله فرمايي: ( مونږ انسان ته له خپل مور او پلار سره د ښېګڼې امر کړی دی نوتاسې له دوی سره ښه کوئ.(

ګران پيغمبر صلی الله عليه وسلم وايي چې: څوک د مور اوپلار خبره نه مني اونافرماني يې کوي ګواکې ده په حقيقت کې د الله اودهغه د رسول خبره نه ده منلې اودهغوی نافرماني يې کړې ده.

که له مونږ څخه خدای مه کړه دمور اوپلار دقدردانی په اړه کومه غلطي شوي وي نوښه بلکې ضرور داده چې زر ترزره له الله جل جلاله څخه دهغې ګناه ښننه وغواړو اودوی بېرته خوشاله کړو.

الله جل جلاله فرمايي: ( بې شکه الله تعالی توبه ايستونکي خوښوي( .

په حقيقت کې مور اوپلار د الله تعالی له لوري ډېر لوی رحمت او نعمت ده، دا زمونږ ذمه واري ده چې ددوی خدمت په خپل ځان فرض وګڼو اوله هغوی سره ډېره ښه معامله او راشه درشه ولرو،څو چې الله تعالی هم له مونږ سره د رحم

او کرم معامله وکړي اود حساب وکتاب په میدان کې مو د خوږ نبي کریم صلی الله علیه وسلم شفاعت او سپاربنتنه په برخه شي.

په پای کې دا دعا کوو چې الله تعالی دې د مسلمان امت هر وګړي ته ددې خبرې توفیق ورکړي چې له خپل مور اوپلار سره ښه چلند وکړي اودهغوی د حقوقو ساتونکي اودهغوی منونکي مو وګرځوي اوخدای مو دې ددوی په اړه له نافرماني او سرکشي څخه وساتي .آمین

دښځې اوخاوند حقوق

داسلام څخه دمخه مېرمنې دخپلوروا حقوقو څخه محرومې اوبې برخې کول او ډول ډول ظلمونه پرې کول په ټولو ادیانوکې مذهبي حیثیت درلود، یواځې اسلام هغه مذهب دی چې دمېرمنوحقوق یې پهمیړونو لازم اوفرض بللي دي.؛ خوداچې مسلمانانوداسلام لاربنونې شاته غورځولي اوپه ځای یې دنورو بې دینه خلکولار خپله کړې ؛ نوله ټولنې نیولې بیا ترکورنۍ پورې ،پریشاني،عدم اطمنان،جنګونه اوبې اتفاقي وروستي پړاؤ ته رسیدلې دي،هره کورنۍ چې ګورې له پریشاني اوبې اتفاقي څخه سرټکوي ، ددې ټولو پریشانیو

مخنیوی یواځې اویواځې په اسلامي لاربنوونوباندې عمل کول دي اوبس .
داسلام پوهانو دنوروګټوحکمونوپه څیردښځې اوخاوند دحقوقولپاره ځانګړي بابونه اورسالې لیکلې دي اودهریوه له پاره یې خپل -خپل حدود ټاکلي دي ،که چېرته هریویې په خپلوحدودوکې وچلیږي ، نونه یواځې داچې داکورنۍ به له ډیرو بدبختیوخلاصی شي ، بلکې همدا کورنۍ به نوروډیروکورنیو ته دلاربنوونې اوهدایت سبب وګرځي .

ښځه هم مور ده ، هم لور، هم مېرمن او هم استاذه.

که دې ته وګوروچې مورده، نویوه لویه مهربانه هستي ده.
اوکه دې ته وګورو چې لورده، نوبیا فرمانبرداره خدمتګاره ده . اوکه دې ته وګورو چې مېرمن ده، نودژوند وفاداره ملګرې ده ، اوکه دې ته وګورو چې دهرانسان لومړنۍ زده کړي ددې په غیږکې کیږي ،نوبیا مشفقه اوخواري کښه استاده هم ده .
په دې بایدپو شو چې دښځې او خاوند داسې نه شلیدونکی ژوند دی چې دعمر ترپایه پورې به دوام لري، که چېرته د دوی دواړو زړونه سره نږدې وي ،نوله دې نه بل لوی نعمت نشته ، اوکه چېرته د دوی په زړونوکې څه فرق راشي، نوله دې نه بل لوی مصیبت نشته ، نوچې څومره کیدای شي یوبل باید له زغم،صبر، درګذر اوحوصلې نه کار واخلي،بې

ځانګړي ډول مېرمنوته پکار ده چې دخپلو خاوندانو زړونه خپل کړي ، ددوی دتابع کولو اسانه لاره، ورین تندی اوتابعداري ده . له دوی سره کینه اوغصه به لویه غلطي اوناپوهي وي .

ځینې بې غوره اوغافلې مېرمنې داسې کارونه وکړي چې په هغه سره دخاوند زړه خفه اوآزار شي ، الله اکبر! دیوعام مسلمان په زړه آزارولو سره خدای جل جلاله دومره زیات خفه کیږي چې عرش په لړزېدو شي ، درسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دی چې : قلب المؤمن عرش الرحمن) دمسلمان زړه دالله جل جلا له عرش دی ، کله چې مسلمان نارینه دیوې مسلمانې مېرمنې خاوند شي ، بیا خویې ډیرزیات خیال ساتل پکار دي. ځکه چې یوځل خفګان رامنځ ته شي بیا چې څومره معذرتونه اوعذرخواهي وشي، هغه زړه مېنه نه پیداکیږي ،نوله اول نه متوجه کېدل پکار دي، ترڅو الله (جل جلا له) اورسول الله (صلی الله علیه وسلم) راضي اودین اودنیا مودواړه برابر شي .

لومړی : پرښځې دخاوندحقونه:

نیکو اوهوښیارو مېرمنو ته خودڅه ویلو ضرورت نه وي، هغوی په خپله په ښه اوبد پوهیږي، خوددې له پاره چې

دخاوند اومېرمنې ژوند دقرانكريم اورسول الله صلى الله عليه وسلم له لارښوونو سره برابر وي ،نو پريو بل باندې دحقوقوبيانول يې دقرانكريم اواحاديثو په رڼا اړين ښكاري .
لوی اومهربان خدای جل جلاله فرمايي : فالصالحات قانتات حافظات للغيب بماحفظ الله [سورة النساء پنځمه پاره [
ژباړه : نيكې مېرمنې (دخاوند)تابعدارې وي، اودخاوند په نشتوالي كې (دهغو دحقوقو) ساتنه كوي .
ددې نوره تشريح داده چې لوی خدای جل جلاله په دې لنډوټكوكې دنيكو اوپاكو مېرمنودعاداتو اوخويونوښې اوصفات بيان كړې دي،داچې نيكې اوپاكې مېرمنې هغه دي چې دخپلو خاوندانو حاكميت په سرسترګو مني اودزړه په مينه دهغوی تابعداري كوي ، اودهغوی په نه شتون كې هم دخپل ځان اوابرو اوددوی دمالوړ ساتنه كوي .
ددې مطلب دادی چې دخپل عصمت اوعفت، دخاوند دكوراومال ساتنه، چې په كورني ژوندكې له ټولونه اهم اوله هرڅه نه وړاندې دی ، په عملي كولوكې يې دنارينه شتوالى اونشتوالى،برابر وي .
داسې نه چې دخاوند په موجودتيا كې دهغوی ساتنه كوي،دهغوی په وړاندې عاجزې او همدر دي ښكاره كوي ؛خوچې كله دخاوند له سترګو پناشي نوبيا يې پروانه لري او دميره عيبونه بيانوي، اودهغه له ټولوښېګڼو څخه سترګې پټوي. لكه چې په يو حديث شريف كې راځي چې ځينې ناشكره مېرمنې داسې وي چې كه مېړه (خاوند) يې ټول

وخت ددې له خوښې سره سم ژوند تیروي ؛خوکه یوکار هم ددې له خوښې نه پرته ترسره کړي نو داوايي : والله مارايت خيرا منک قط) په خدای قسم چې ماله تانه ټول ژوند خیرنه ده لیدلی. (الله دې موږ وساتې(
حضرت امام غزالي رحمه الله وايي چې : دشريعت له نظره نیکې اودینداره مېرمنې هغه دي چې دخپلو کورونوپه جوړولو،دخپل مال په ساتنه اودځان اواولاد په اصلاح کې مشغولې وي .

نبوي احاديث :

لومړی حدیث : دحضرت ابوهريره رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چاپوښتنه وکړه : یارسول الله ! کومې ښځې غوره دي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:خيرنسائكم التى اذا نظر اليها زوجها سرته، واذا امرها اطاعته، واذا غاب عنها حفظته فى نفسها وماله. [مشكوة صفحه ٣٠٢ ]
ژباړه : هغه مېرمنې (غوره دي) چې خاوندېې ورته وګوري خوشحاله يې کړي ،اوچې کله دکوم شي امر ورته وکړي، هغه ترسره کړي اوخبريې ومنې، او په مال اوناموس کې یې خيانت نه کوي .
دوهم حدیث : بل ځای کې دحضرت ام سلمې رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه

وسلم وفرمايل: ايما امراة ماتت وزوجها عنها راض دخلت الجنة. وراه الترمذي)[ مشكوة ۳۰۳[
كه يوه ښځه په داسې حال كې مړه شي ،چې ميړه(خاوند) يې ورنه خوشحاله اوراضي وي، نو جنت ته به داخليږي.
دريم حديث : په بل ځاى كې له حضرت ابوهريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اذا دعا الرجل امراته الى فراشه فابت فبات غضبان، لعنهاالملائكة حتى تصبح . متفق عليه) [مشكوة ۳۰۲ ]
ژباړه : كله چې خاوند خپله مېرمن بسترې ته وروغواړي او هغه انكار وكړي اوسړى ناراضه شپه سباكړي ، نوترسهاره ملائكې په دغه مېرمنې لعنت وايي .
څلورم حديث : وعن جابر رضى الله تعالى عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ثلاثة لايقبل لهم صلاة ولاتصعدلهم حسنة :العبد الابق، حتى يرجع الى مواليه، فيضع يده فى ايديهم. والمراة الساخط عليها زوجها. والسكران حتى يصح .( رواه البيهقي) [ مشكوة ۳۰۵ ]
ژباړه له حضرت جابر رضى الله تعالى عنه روايت ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د دريوكسانو لمونځونه،نه قبليږي اونه يې صدقه قبليږي :
۱ -دتښتيدلي غلام، ترڅو چې بيرته را ونه ګرځي.
۲ -هغه مېرمن ، چې خاوند ورنه خفه وي .
۳ -نشه يي چې ترڅويې ختمه نه شي .

پنځم حديث : له حضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: المراة اذا صلت خمسها وصامت شهرها واحصنت فرجها واطاعت بعلها فلتدخل من ای ابواب الجنة شاءت. رواه ابو نعيم) [ مشکوة ۳۰۳ ]

ژباړه : کومه مېرمن چې پنځه وخته لمونځ کوي،درمضان روژې نېسي، دخپلې شرمګاه ساتنه کوي، اودخپل خاوند خبره مني، نوله کومې دروازې دجنت چې يې خوښوي داخله دي شي .

شپږم حديث : عن عبدالله بن مسعودقال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم اقرب ماتکون المراة من وجه ربها، اذاکانت فی خدمت زوجها (

ژباړه : حضرت عبدالله بن مسعودرضی الله تعالی عنه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالی جل جلا له ته دښځې لپاره، دډېر نږ ديوالي وخت هغه دی چې کله دا دخپل خاوند په خدمت کې لګياوي .

اووم حديث : له حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها څخه په اوږده حديث کې داراويت راغلی دی چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: لوکنت امرا احدا ان يسجد لاحد امرت المراة ان يسجد لزوجها. رواه احمد[ مشکوة ۳۰۵مخ] په دې اوږ د حديث شريف کې راغلې چې مهاجر اوانصار صحابه کرام (رضی الله تعالی عنهم ) ولاړۀ چې يوه اوښه راغله اوحضرت نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته يې سجده وکړه،

صحابهٔ کرامو (رضی الله تعالی عنهم ) عرض وکړو یارسول الله ! مونږګوروچې  تاته حیوانات اوونې سجدې کوي ،نومونږ ته هم اجازه وکړه چې تاته سجده وکړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل : تاسوخپل رب ته سجده اوعبادت وکړئ اودخپل ورور(حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم) عزت کوئ. که ماچاته له خدایه پرته دسجدې حکم کولی نومابه مېرمنې ته حکم کړی و چې خپل مېړه (خاوند) ته سجده وکړې.

اوپه یوروایت کې  داسې راغلې دي : لامرت النساء ان یسجدن لازواجهن ،بما جعل الله علیهن من حق . رواه ابوداود.[ مشکوة ۲۰٤مخ ]

یعنې :نومابه مېرمنوته حکم کړی و چې دوی خپلو مېړونوته سجدې وکړي ، دهغو حقوقو له وجې  چې خدای جلا جلاله په دوی باندې ایښې کړې دي .

اتم حدیث  : وعن ابی هریره رضی الله تعالی عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم المراة راعیة علی بیت زوجها ومسؤلة. [ بخاري ]

ژباړه: مېرمن دمېړه (خاوند) دکور ساتندویه ده اوله همدې نه به یې دکور په هکله پوښتنه کیږي .

لسم حدیث : له حضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې  رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اذاخرجت المراة من بیتها وزوجها کاره ،لعنها کل ملک فی السماء وکل شیئ مرت علیه ، غیرالجن والانس، حتی یرجع .

[کشف الغمه ]
ژباړه : کله چې کومه میرمن دمېړه له اجازې پرته له کوره ووزي، نوداسمان هرملائکه اوپه هرهغه شي چې تیریږي ، په دې باندې به لعنت وايي،ترهغوچې بیرته کورته راشي . ..

دمېرمنې حقوق

لوی اومهربان خدای جل جلا له فرمايي :
وعاشروهن بالمعروف] (سورة النساء ٤سپاره، ايت ١٩] (په ځانګړي ډول دهغو ښځو سره چې ستاسو مېرمنې دي) حسن سلوک اوښه رویه کوئ.
په یوبل ځای کې الله جل جلا له فرمايي : والصاحب بالجنب ] (سورت نساء پنځمه پاره: ٣٦ایت [
ژباړه : اودهم مجلس (مېړه ) سره هم ښه خوی اونیک سلوک کوي .

نبوي احادیث

لومړی حدیث:
عن ابی هريره رضی الله تعالی عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : اکمل المؤمين ایمانا احسنهم خلقاً،وخیارکم خیارکم لنسائکم . رواه الترمذي. وقال هذا

حديث حسن صحيح ] . مشكوة ٣٠٤ [
ژباړه : كامل مومنان هغه دي چې دهغوى اخلاق ښهٔ اوښک وي، په تاسوکې غوره هغه دي ، چې خپلومېرمنو ته غوره وي .
دويم حديث:
عن ابى هريره رضى الله تعالى عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم استوصوا بالنساء خيرا ..... ) متفق عليه . [ مشكوة ٣٠٢مخ [
ژباړه : زه تاسوته دمېرمنو په هكله دخيروصيت كوم ؛نوتاسوددې په هكله زما وصيت قبول كړئ .
دريم حديث:
عن عائشة رضى الله تعالى عنها قالت : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : خيركم ،خيركم لاهله وانااخيركم لاهلي واذا مات صاحبكم فدعوه .رواه الترمذي والدارمي. [ مشكوة ٣٠٣ [
ژباړه : غوره اوبهتر په تاسوكې هغه دى چې له خپلې ميرمنې سره ښه سلوک کوي او زه په تاسوکې ډيرغوره يم له خپلې مېرمنې سره. اوچې كله ستاسوملكرى (ميړه ياميرمن) وفات شي ؛نودعا ورته كوئ .
څلورم حديث:
عن ابى هريره رضى الله تعالى عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لايفرک مؤمن مؤمنة ،ان كره منها خلقا رضى منها اخر. وراه مسلم . [ مشكوة ٣٠٢[

له حضرت ابوهريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هيڅ مؤمن ته له خپلې ميرمنې سره کينه اوبغض نه دی پکار، ځکه چې که کوم يوعادت دده خوښ نه شي ، نوبل عادت به يې خوښ شي .

پنځم حديث :

عن عبدالله بن زمعة رضی الله تعالی عنه قال : قال رسول الله صلی الله عليه وسلم لايجلد احدکم امراة جلدة العبد ثم يجامعها فی اخراليوم. متفق عليه [ مشکوة ۳۰۲]

ژباړه : له حضرت عبدالله بن زمعة رضی الله تعالی عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

تاسو خپلې مېرمنې مه وهئ ، دغلام اومريي په څېر، اوبيا دورځې په اخيرکې يوځای والی هم ورسره کوئ .

شپږم حديث:

په احياء العلوم کې دحضرت نبي کريم صلی الله عليه وسلم حديث نقل کړی شوی دی چې : (زماپه امتيانوکې ) کوم کس دخپلې ميرمنې په بداخلاقي باندې صبر وکړي ؛الله تعالی به هغه ته دومره ثواب ورکړي لکه حضرت ايوب عليه السلام ته يې چې په مرض صبر ورکړی و، اوکه کومې ميرمنې دخپل ميړه (خاوند)په بدواخلاقو اوغصه باندې صبروکړ؛نودېته به دومره ثواب ورکړی شي لکه دفرعون ميرمنې حضرت آسيه عليها السلام ته يې چې ورکړی ؤ .له دينه وروسته حضرت پيغمبرعليه السلام وفرمايل: زه

دخپلومیرمنوپه غصه باندې صبرکوم تاسوهم زماپه شان اووسئ .
اووم حديث:
دحضرت انس رضی الله تعالی عنه په یوروایت کې راغلې دي چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ښځواوماشومانو ډېرزيات مهربان اومشفق ؤ .
اتم حديث:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: ماانفق الرجل علی اهله فهو صدقة وان الرجل فی نفقة امراته يدرک درجة الغازي. [ بيهقي[
ژباړه : هغه څه چې ميړه يې په خپله ميرمن باندې خرچ کوي؛هغه صدقه ده. اوهغه سړی چې په خپله ميرمن باندې خرچ کوي ؛هغه به دغازيانودرجه ومومي .
نهم حديث:
په حديث شريف کې راځې : کوم کس چې خپلې ميرمنې ته يوه دينې مسئله وښيې ؛ نوالله تعالی به داتلس کلونو عبادت ثواب ،دده په عملنامه کې وليکي .
لسم حديث:
د رسول کريم صلی الله علیه وسلم حديث مبارک دی چې زما دامت په نارينه ؤ کې تر ټولوزيات غوره هغه څوک دی چې د خپلې ميرمنې سره داسې رويه کوي لکه مورچې دخپل اولاد سره کوي. دداسې نارينه لپاره هرورځ اوشپه په صبراوشکرتيرولو سره دسلو شهيدانو ثواب ليکل کيږي .

دخاوند اومېرمنې حقوق په لنډ توګه

دخاوند اومېرمنې دحقوقو په اړه ډېرزيات حديثونه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي ، دټولوبيانول ناشونې دي؛ خودلته يې مونږ يواځې په پورتنيو شلو مبارکوحديثونو (چې لس دمېړه اولس دمېرمنې دحقوقو په اړه دي ) بس والى کوو .
که قرانکريم اوحديثو مبارکو ته ځيرشو ؛نوپه لنډه توګه لاندې لاربښوونې ترې معلومېږي :

دخاوندحقوق:

١ -په هرحکم کې دده اطاعت کول، خوپه دې شرط چې دګناه نوې .
٢ – دده له وس نه زياته نفقه اوخوراک ،نه غوښتل .
٣ – دمېړه له اجازې پرته دهيچا کورته ، نه تلل .
٤ – دده له اجازې پرته به هيچاته دکورته ننوتو اجازه نه ورکوي .
٥ – دمېړه له اجازې پرته به ،دده مال چاته نه ورکوي .
٦ – دمېړه له اجازې پرته به نفلي لمونځ اوروژه نه نيسي .
٧ – که يې دهمبستري لپاره وغواړي ؛نود شرعي عذر(حيض اونفاس اونور...) څخه پرته په نورو وختونو

کې  به انکار نه کوي .
۸ – خپل میړه (خاوند) به دنېستۍ اوبدرنګۍ له امله  حقیر نه بولي .
۹ – که دشریعت خلاف کوم کارپه میړه کې ووینې ؛نوپه دېرادب  به یې منع کوي .
۱۰ – میړه ته به خپل نوم ، نه اخلي .
۱۱ – دهیڅچا په مخ کې به دمیړه شکایت نه کوي .
۱۲ – دهغه په مخکې به ژبان درازي نه کوي .
۱۳ – دهغه  له خپلوانوسره به جنګ اوبحث  نه کوي .
۱٤ – اوکه مېړه (خاوند (وفات شي ؛نودعا به ورته کوي .

دمېرمني حقوق :

۱ – د مېرمنې سره به نیکه رویه کوي .
۲ – دضرر رسولوپروخت  برداشت کول،یعنې که دمیرمنې لخوا څۀ تکلیف ور رسیږي دهغه به زغم کوي .
۳ – په غیرت کې اعتدال کول ، نه به پر هغې بدګماني کوي اونه به بیخې غفلت ترې کوي .
٤ – په خرڅ اوخوراک کې به میانه روي کوي،  نه به تنګسیا پرې راولي اونه به یې فضول خرڅي ته پریږدي .
٥ – دحیض (میاشتنی مرض ) نفاس ( دماشوم له پیداکیدو وروسته مرض ) په احکاموبه یې خبر وي ،د دینداري تاکیدبه ورته کوي اوله ناروا کارونوبه یې په کلکه  منع کوي .

٦ – که له یوې ښځه زیاتې مېرمنې یې  په نکاح وي؛نوددوی په منځ کې به  برابری کوي .
٧ – دضرورت په اندازه به یوځای والی کوي .
٨ – دهغې له اجازې پرته  عزل (یعنې بهر انزال کول ) به نه  کوي .
٩ – دضرورت په اندازه داوسیدلو کور ورکول .
١٠ – دهغې له خپلوانو(پلار،مور،تره،ورور،خور ( . . . سره به نیکه رویه کوي .
١١ – که خداي مه کړه  دوهلواړتیا پیښه  شي، نوپه وهلو کې به زیاتی نه کوي .
١٢ – دخپل مېرمني  دراز خبرې به   چاته نه کوي .
١٣ – که خداي مه کړه  ددوی په منځ کې شخړه پیداشې نو په طلاق کې به تلوار نه کوي .
١٤ – دخاوند په شتون اونه شتون کې به دده دکور ساتنه کوي